مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی ۲۰۲۲/۰۲/۲۷

# سویفټ - SWIFT څه ته وايي؟

نړیوالې رسنۍ په یوکراین باندې د روسي د تاړاک د خبرونو په څنګ کې، د سویفټ په نوم یو سرټکي هم بیا بیا تکراروي. څارونکي په دې باور دي که روسیه له دغه سیستم څخه په بشپړ ډول محرومه شي، نو کیدای شي چې د یوې ډیرې اغیزمنې وسلې په توګه د کرملین قیصر خپلې محاسبې او ستراتیژۍ ته اړ باسي.

(The Society for Worldwide Interbank Financial Telecommunication.
- د بانکونو ترمنځ د نړیوالو مالي اړیکو ټولنه)

دا هغه مالي او بانکي سیستم دی چې د نړۍ له یو ګوټ څخه بل ګوټ ته د پیسو د لیږد او تر لاسه کولو بهیر سرته رسوي. په دې کې د نژدې دوه سوو هیوادونو، یولس زره مالي شرکتونه او مؤسسې په کار لګیا دي او هره ورځ څه باندې څلور سوه ملیارده ډالره له دې لارې یوه خوا او بله خوا استول کیږي. دغه ټولنه د ۱۹۷۳میلادي کال د مې په دریمې نیټې د بلجیم په پلازمینې، بروکسل کې رامنځ ته شوه چې د اروپایي هیوادونو د قوانینو په چوکاټ کې به خپل مالي او بانکي فعالیتونه تنظیموي. پنځه ویشت ستر اقتصادي هیوادونه د سویفټ د ګډ مدیریت چارې پر مخ بیایي چې روسیه هم له دې ډلې څخه ده، البته معلوماتي مرکز یې د ویرجنیا په ایالت کې دی.

اوس پوښتنه دا ده چې آیا دغه هیوادونه کولای شي د روسیې فدراسیون له دې مهم نړیوال سیستم څخه وباسي او بندیزونه وربانډې ولګوي؟ د دې سیستم په اساس نامې کې لیکل شوي چې هغه به بې پرې وي او په سیاسي لانجو کې به ځان نه ښکیل کوي، خو همدې ټولنې لومړی په ۲۰۱۲م او بیا په ۲۰۱۸م کې ایران له دې سیستم څخه وویست او تر اوسه د بیرته راتګ اجازه نه لري. همدا څو ګړۍ وړاندې د اروپا د اتحادیې یو مشرې اعلان وکړ چې لودیځې اروپا، امریکا او کاناډا پریکړه وکړه چې د روسیې زیاتره بانکونه به له دې مالي نظام څخه د باندې کړي.

له بله پلوه، د پیرنګیانو په ګډون، لسو اروپایي ملکونو اعلان وکړ چې د روسیې د ملکي الوتکو پر مخ یې خپل هوایي قلمرو / حریم بند کړ، چې دا پخپل ځای د یوې اقتصادي سزا په توګه، درنه څپیړه ده. د یادونې وړ ده چې د روسي فدراسیون د ایر فلوټ په ګډون، ټول هوایي شرکتونه یې تقریباً زر ملکي الوتکې لري چې ۷۷۷ یې له اروپایي هیوادونو څخه په اجارې اخیستي او یواځې ۲۳۰ الوتکې یې خپلې دي.

د العربیة له نړیوال چینل او معتبرو خبري آژانسونو څخه په مننې سره،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ